د افغانستان د څېړنې او ارزونې اداره
د موضوعي پاڼو لړۍ

# کارغورولوکی واک کمیدل
## دکلیوالو افغانانو د معیشیت څارل



پاولا کانتور اوآدم پین

د ۱۳۸۹ لیندۍ

## د افغانستان د څېړنې او ارزونې د ادارې په هکله

د افغانستان د څېړنې او ارزونې اداره په کابل کې ميشته يوه خپلواکه څېړنيزه اداره ده. ددې ادارې دنده د لوړ ځرنګوالي درلودونکو او پاليسۍ پورې اړوندو څېړنو له لارې پرپاليسی او چارومثبتې اغيزې او دمعلوماتو پراخول دي.

همدا راز نوموړې اداره په افغانستان کې د څېړنې او زده کړې د کلتور د ودې په موخه د څېړنې پايلې په چټکه توګه خپروي. دې موخې ته د رسيدو لپاره نوموړې اداره د پاليسي جوړونکو، مدني ټولنې، څېړونکو او زده کونکو سره ددوی د څېړنېزې وړتيا د پياوړې کولو او ددوی په مينځ کې د دې ادارې د څېړنو او کتابتون څخه د ګټه اخيستنې دترويج په موخه ښکيل ده ځو په دې توګه وکړای شي شننو، غبرګونونو او خبرو اترو ته لاره هواره کړي.

نوموړې اداري په ۱۳۸۱لمريز کال په افغانستان کې د بوختو مرستندويه ټولنو په مرسته يې په کار پيل وکړ او د يو مديره پلاوي درلودونکې ده چې د بسپنه ورکونکو ټولنو له خوا لکه ملګرې ملتونه او نورو ځو اړخيزو ادارو، او نا دولتي ادارو له خوا يې استازيتوب کيږي. نوموړې اداره اوس مهال خپله اصلی بودجه د ډنمارک ، فنلند، ناروی، سويډن، سويزرلند او د انګلستان دحکومتونو څخه تر لاسه کوي. د افغانستان د پرانيستې ټولنې د انستيتيوت (FOSIA)، ايشيا فونديشن (TAF)، اروپايي کميسيون (EC)، او د نړيوالې پراختيا لپاره د څېړنيز مرکز (IDRC) له خوا ددې ادارې له ځانګړو پروژو سره مالی مرستې کيږي.

طرح او ډيزاين: نجيب يزدانی

ژباړونکی : ماری "شيرزاد"

د افغانستان د څېړنې او ارزونې اداره دنشراتو مخصوص شميره (۱۱۰۱P) دی.

© ۱۳۸۹ د افغانستان د څېړنې او ارزونې اداره. ځينې حقونه خوندي دي.دغه خپرونه ښايي د افغانستان د څېړنې او ارزونې ادارې او د ليکوال د ليکلې اجازه ليک د تر لاسه کولو سره بيا خپره، د موندلو وړ سيستم کې زيرمه او يا يوائې د غير-سوداګريزو موخو لپاره وليږدول شي. چيرې چې دغه خپرونه بيا خپره، زيرمه او يا د بريښنايي لارې ليږدول کيږي، د افغانستان د څېړنې او ارزونې داداري د ويب پاڼې اړيکه بايد ذکر شي www.areu.org.af. او ددې خپرونې په کارول له نوموړې موافقې پرته ، د خپرونکې يعنې د افغانستان د څېړنې او ارزونې د ادارې مخکينې ليکلې اجازه ليک ته اړتيا لري. دغه اجازه ليک کيدای شي د areu@areu.org.af او يا د ۰۰۹۳۷۹۹۶۰۸۵۴۸ شميرې سره د اړيکې له لارې تر لاسه شي.

## د لیکوالانو په اړه

پاولا کانتور د کلیوالي معیشت د بدلون د څېړنې کوم چې دغه رپوټ یې په اړه لیکل شوی، انډول څیړونکې ده. نوموړې د ۱۳۸۷ کال د زمري له میاشتې څخه د ۱۳۸۹ کال د چنګاښ تر میاشتې پورې د افغانستان د څېړنې او ارزونې د ادارې د مشرې په توګه دنده تر سره کوله، تر دې وړاندې هغې د څېړنې او ارزونې د ادارې د جندر(جنسیت) او معیشت له څانګو سره د څیړنې د لوړپوړې مدیرې او د بریتانیې د East Anglia د پوهنتون د نړیوالې پراختیا په پوهنځي کې د تولنیزې پراختیا په برخه کې ښوونکي په توګه دنده تر سره کوله.

آدم پین هم په دې څیړنه کې انډول څیرونکی دی. نوموړي د تیرو شلو کلونو راهیسې د هیمالیا په سیمه کې د کلیوالي معیشتونو په اړه کار کاوه. هغه د بریتانیې د East Anglia د پوهنتون د نړیوالې پراختیا په پوهنځي کې د څیړنې لوړ پوړی همکار ، او د سویډن د کرهنیزو علومو د آپسالا د پوهنتون د کلیو او ښارونو د پراختیا په څانګه کې د کلیو د پراختیا ښوونکې دی. د هغه وروستی څیړنه په افغاني کلیوالو ټولنو کې د غیر رسمي پوررونو پر جوړښتونو او د تریاکو د اقتصاد په شرایطو کې پر کلیوالي معیشت متمرکزه ده.

## کورودانی

ددې څیړنې بشپړیدل به د هغو کارکوونکو له هڅو او هاند پرته چې په ساحه کې یې عملي کار تر سره کړی او د یو شمیر ستونزمنو شرایطو په وړاندې په کلکه مسلکي، ژمن او انعطاف منوونکي وو، ناشونی کار ؤ. زه له : زهرا، ناجیه، فرخ لقا،وامق الله ممتاز، نجیب، امین، احسان، احمدګل، محمد ابراهیم، نعیم، سمیرا، انیسه، توبا، تام او ماری لویز څخه چې په بیلابیلو وختونو کې یې د افغانستان د څیړې او ارزونې د ادارې په کاري سیمو کې دنده تر سره کړې؛ او همدا راز د میرسي کارپس د ډلې له غړو هر یوه حمید، نورضیا، هوسی ، عبدالظاهر او محمد یاسین ؛ او د آغا خان د بنیاد له غړو هر یوه نقیب الله، حنیفه، عبدالمصور، منیره،عبدالحی او رامین فراوون څخه د زړه له کومې مننه څرګندوم.

د دې څیړنې د همکارانو ( میرسي کارپس او د آغا خان بنیاد) لیوالتیا او همکاري په کلکه د ستایلو وړ ده. همدا راز د افغانستان د څیړنې او ارزونې د ادارې له ساحوي ډلو سره د سرپل او فاریاب په ولایتونو کې میشت د ماشومانو د ساتنې د دفتر او په همدې توګه په فاریاب کې د اکتید د دفتر له مرستوڅخه مننه کوم.

په پای کې، د ځواب ویوونکو کورنیو همکاري چې خپل ارزښتناکه وخت یې مونږ ته په واک کې راکړ د خورا ستایلو وړ ده. څیرنیزه ډله هیله منه ده چې هغه پوهه چې ددې څیړنې له لارې تر لاسه شوې د کلیو د پراختیا د هغه پروګرامونو په ښه کیدو کې به مرسته وکړي چې ددوی په ژوندانه کې مثبت بدلونونه رامینځ ته کوي.

پاولاکانتور

د ۱۳۸۹ کال د لیندی میاشت

## اجرائيوي لنډيز

۱. په ۱۳۸۱-۱۳۸۲ کلونو کې د افغانستان د څېړنې او ارزونې د ادارې څېړنيزې ډلې د افغانستان د اوو (۷) ولايتونو په کچه يې د يو زيات شمير کليوالو کورنيو معيشت مستند کړ. نوي څېړنه څرګندوي چې د لسيزې تر پايه ګڼ شمير دغه کورنۍ د خپلو ورځنيو اړتياوو د پوره کولو لپاره هلې ځلې کوي او ددوی وضعيت آن تر پخوا ډير ناوړه دی. ددوی پر راتلونکي د ابهام او هغه با کيفيته معيشت چې وکړای شي خونديتوب رامينځ ته کړي د اختياراتو د نه شتون وريځې خپرې دي.

۲. دغه رپوټ د ۱۳۸۱ او ۱۳۸۹ کلونو تر مينځ د بدخشان، کندهار او سرپل د ولايتونو د اتو (۸) کليو په کچه د ۶۴ کورنيو د معيشت د بدلون څرنګوالی څېړي. دې رپوټ وموندل په دا سې حال کې چې له ۱۳۸۱ کال راهيسې د ګڼ شمير خلکو لاس رسي بنسټيزو خدمتونو ته ښه شوې او په داسې حال کې چې د زياترو خلکو د معيشت خونديتوب راټيټ شوی خو آيا د کورنۍ وړتياوې، شتمني او فعاليتونه د يوه باثباته ژوندانه لپاره کافي دي. د وچکالی، د اپينو د کرکيلې د بنديدلو او په نړيواله کچه د خوراکي توکو د بيو د لوړوالي په ګډون هغه بدلونونه چې د دوی له کنټرول څخه بهر دي د کرهنيزو توکو په توليد کې د ستر کموالي او يا د خوړو د خونديتوب په وړاندې د ګواښ لامل دي. له دې سره په غبرګون کې هغه کسان چې په غير کرهنيزو کارونو بوخت دي خپل کارونه يې زيات کړي؛ او د نقدو پيسو د ګټلو لپاره د نوو لارو په لټه کې دي. چې دا دواړه غبرګونونه د مزدورۍ د اجرت د کمولو او د کاری مارکيټ د ارزښت د کمولو لامل دي. هم دې ترڅ کې هغه خلک چې کارته لاسرسي پيداکوي ، خيراتي کارونو او د خوراکي توکو د مرستو او پورونو پر برابرونکو اتکاء هم زياته شوې ده.

۳. په دې اقتصادی او ټولنيزو شرايطو کې د ناروغيو يا د مهمو ټولنيزو ژمنو لکه د ودونو د لګښتونو د پوره کولو په وړاندې توافق په زياتيدونکي توګه ستونزمن کار دی؛ په داسې حال کې چې ځينې خلک نور د روغتيايي پاملرنو د برابرولو توان نه لري او ځينو نورو بيا ودونه ځنډولي دي. زياتره کورنۍ آن خپل ځان په پورونو کې په ژوره توګه ډوب شوي ګڼي؛ هغه کورنۍ چې نارينه ګاريګر نه لري اکثراً لږ اختيارات لري خو د خپلو وړو لوڼو د ولور په پيسو هرڅومره چې وي کولای شي خپل ژوند وژغوري.

۴. که څه هم چې پر کرهنې د اتکاء کمول يوه ډاډمنه ستراتيژي نه وه خو، په حقيقت کې ټولو هغو کورنيو چې په ښه توګه د خپل معيشت د تأمين او ساتنې وړتيا يې درلوده ، د کرهنې څخه بهر يې د توپير ورکولوډول ډول کارونو له لارې دا کار تر سره کړ. که څه هم چې دا اکثراً د اپينو پرکرکيلې د بنديز، وچکالۍ او د دواړو د يوه ګډ ترکيب په وړاندې يو جبري غبرګون ؤ خو زياتره د زوال په حال کې کورنيو څه په افغانستان او يا په ګاونډيو هيوادونو کې د کرهنې څخه ليرې په راز راز غيرکرهنيزو کارونو لاس پورې کړ. د ښه او باثباته معيشت تأمينوونکو کورنيو، ډير ځلې د وړتياوو او هغو اړيکو پر بنسټ چې د غير کرهنيزو باکيفيته دندو، په ځانګړي ډول معاش لرونکو دندو ته يې د دوی لاسرسي تأمينوله تنوع يې را مينځ ته کړې ده. په دې برخه کې موقعيت هم د اهميت وړ دی، د ښه او با ثباته معيشت تأمينوونکي کورنۍ زياتر ه په کندهار کې ليدل شوې دي. سياسي اړيکو او لومړنۍ پانګې له ځينو کورنيو سره د معيشت د تأمين له چټکې ودې سره مرسته وکړه او اکثراً له دوی سره د بيوزلو کليوالو له خوا چې د کار لپاره پر دوی متکي وو مرسته کيدله. ځينو نورو ته د کندهار غير رسمي ښاري لرزنده اقتصاد ته د لاسرسی له لارې د ودې لږ شمير فرصتونه برابر شول. په دې برخه کې د کورنۍ جوړښت هم يو مهم رول لوبوي: په ټوليزه توګه د زيات شمير نارينه کاريګرو درلودونکو کورنيو د اغيزمنې تنوع د رامينځ ته کولو لپاره ښه امکانات درلودل. د ښځو پر اقتصادي فعاليتونو او د نجونو په ښوونې او روزنې ولاړو کورنيو د نن او راتلوونکې د تنوع وړتيا محدوده ده ، چې دا کار د ښځو انفرادي خونديتوب او د کورنيو راتلوونکی له ګواښ سره مخامخ کوي.

۵. ګڼ شمير ځواب ويوونکو کورنيو د مارکيټونو سره په ښکيلتيا کې يې له احتياط څخه کار اخيست، کوم چې د کرهنې او

د کلیو د پراختیا (ARD) په اوسنی پالیسی کې پر بازاري کرهنیزو محصولاتو د کلک ټینګار په اړه پوښتني راپاروي. د احتیاط دغه کچه څرګندوي چې د مارکیټ پر بنسټ ودې لپاره سنجول شوو تګلارو ته اړتیا ده. په زیاتو برخو کې د معیشت با ثباته کول او د خوړو خوندیتوب ته رسیدل، مارکیټ سره د زیاتیدونکې ښکیلتیا له هڅوني څخه وړاندې لومړني ګامونه دي. دا په دې مفهوم دی چې د کرهنې او کلیو د پراختیا په پروګرامونو(ARD) کې معیشتي محصولاتو ته انډوله پاملرنه شوې ده. په خورا لیرو پرتو سیمو کې د میشتو کورنیو لپاره چې د بازاری محصولاتو لپاره مناسب اختیارات لږ لري، دمعیشتي محصولاتو وده د ټولنیز خوندیتوب د یوې ستراتیژۍ برخه جوړولای شي. دا باید روزنو او ښووونیزو او روزنیزو فرصتونو ته د لاس رسی له لارې پیاوړی شي او هغه کسان چې د کرهنیزو چارو د پرېښودلو غوښتوونکي دي د موجودو امکاناتو په پرتله کولای شي په ښو شرایطو کې کار وکړي.

۶. له کرهنیزو معیشتونو سره تړلې د پام وړ ګواښونه او د سکټور د دوام پر وړتیا شک هم په مینځ مهال کې د ښاري پراختیا او د دندو د رامینځ ته کولو په برخه کې د پانګونې اړتیا ته ګوته نیسي. دې ته په پام سره چې د کورنیو د معیشت د ستراتیژۍ تعقیب په ندرت سره په واحدې جغرافیایي فضا پورې محدوده ده، دغه هڅې باید د کلیو د پراختیا د یوې رښتینې ستراتیژۍ برخه وي. د کلیو پراختیا باید د کلیو د موقعیت په اړوند نه بلکې د کلیو د اوسیدونکو په اړوند وي. په همدې توګه ګاونډیو هیوادونو ته د کلیو د اوسیدونکو د معیشتي فعالیتونو پراختیا د استثمار له خطر څخه د مهاجرو کارګرانو د ساتنې اړتیا هم روښانه کوي.

۷. لازمه ده چې ټولنیز خوندیتوب، سر چینو ته د لاس رسی په لاره کې نه یواځې تشې ډکې کړي بلکې د بیوزلی څخه د خلاصون لپاره د ټولو افغانانو وړتیا هم تضمین کړي. دا په دې مفهوم چې د بشپړې خپلواکی او د استثمار او له ځواک څخه د ناوړه ګټه اخیستنې په وړاندې د لږې زیانمننې سره د خپلو معیشتونو د تعقیب په لارکې د هغوی وړتیا خوندي کړي. ددې څیړنې څخه لاس ته راغلې معلومات د نابرابرۍ او تړاو له ګڼو بیلګو څخه ډک دي چې د خلکو پر اختیاراتو او دهغوی د بریالي تعقیب پر وړتیا محدودیتونه لګوي. په دې بیلګو کې د جندر(جنسیت) نورمونه، ناانډوله وظیفوي اړیکې، د کرهنیزو ځمکو د اجارې ترتیبات، او په ځینو کلیو کې د سرچینو د ویش په برخه کې د ځایي زورواکو د همکارۍ وړتیا شامله ده. مرستندویو فعالینو ته لازمه ده څو ددې سیستم اغیزې تایید او د ځایی ټولنو سره د هغوی د بدلون دپیل لپاره د همکارۍ لارې مشخصې کړي.

۸. دا ټولې اندیښنې باید د یوې ګډې تګلارې برخې جوړې کړي څو ډاډګیرنه معیشت لاپسې ښه شي چې تر ټولو زیانمنده وګړو ته تأمین ، له ناروغیو او یا د نه بریالي کرهمني محصول له سختو صدمو څخه د خلکو ساتنه وکړي، او د ظرفیت ښه کیدل وهڅوي او موجودو نابرابریو ته بدلون ورکړي. د پالیسی لپاره پام وړ برخې دا دي:

۹. د کرهنیزو محصولاتو د بدلون اړوند خطرونو راټیټول

۱۰. د غیر کرهنیزو کاري فرصتونو د کمیت او کیفیت ښه کول

۱۱. د وړاندې شوو مالي خدمتونو د ډولونو پراختیا څو سپما او د بیمې محصولات هم په کې شامل شي

۱۲. د لوړو روغتیایي لګښتونو د اداره کولو لپاره له کورنیو سره مرسته

۱۳. پر ټولنیزو پیینو د لګښت د کچې د ادارې لپاره د مناسبو لارو موندل

۱۴. د ښووني او روزنې د ترویجي وړتیا د ښه کولو په موخه د هغې د کیفیت او لاسرسی لوړول

د دغې خپرونې نسخې د افغانستان د څېړنې او ارزونې د ادارې له دفتر
څخه په وړیا توګه تر لاسه کولای شئ:

د افغانستان د څېړنې او ارزونې اداره
د ګل پلورلو سړک ) د واټ څنګ( نوی ښار کابل، افغانستان
ټلیفون: ٥٨٤ ٦٠٨ ٧٩٩ ) ٠( ٩٣+
برښنالیک: areu@areu.org.af